ملی پاڅون

شیرعلي باچا

ملي پاڅون

شیرعلي باچا انور

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

ټول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم	:	ملي پاڅون
ليکونکے	:	شېر علي باچا
د چاپ کال	:	جولايي ۲۰۱۰
شمېر	:	۱۰۰۰
بيه	:	۲۰۰/- روپۍ
د چاپ منتظم	:	ياسر علي باچا
د چاپ ځائے	:	جدون پرنټنګ پريس پېښور
خورونکی	:	پاڅون پرنټرز اينډ پبلشرز مردان

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

ترون

د پښتونخوا د خوارې کښې
اولس په نوم چې د دې
وطن د ازادۍ او خپلواکۍ
د پاره يو ملي پاڅون ته
لېواله دے

KITABOONA BLOGSPOT.COM

د شېر علي باچا انور د منظوم کلام يو جاج

پروفېسر ډاکټر محمد زبېر حسرت د مرحوم شېر علي باچا انور د کلام ځو پاڼې راکړې، وئيل ئې مطالعه ئې وکړه او ډېر خۀ پرې وليکه او دا ئې هم راته ووې چې څنګه دلته ناست ئې هم دلته پرې په ناسته ناسته وليکه. ما وئيل دا خو مطالعه غواړي. يو داسې ماحول غواړي چې چرته خاموشي وي او مداخلت نۀ وي او تر ټولو لويه خبره دا ده چې يو موډ (چُرت) غواړي او بيا دا چې د شېر علي انور باچا مقام ته ځان رسول غواړي يا د هغوي په مقام ځان پوهول غواړي. سره د دې چې د مرحوم باچا جي سره زما ليدۀ کاتۀ نۀ وو شوي خو ولې زۀ د هغوي له افکارو نه د هغوي د ليکونو په ذريعه خبر يم او د هغوي د درانۀ شخصيت په باره کښې چې مې له نورو څۀ اورېدلي دي يا مې څۀ لوستلي دي نو د هغې نه مې هم اندازه لګولې ده چې مرحوم په هر لحاظ يو قامي اتل، دانشور او د سماج د بدلون دپاره عملي ګامونه پورته کونکے وۀ. هغه د قامي نجات پېغام رسونکے، د ملي يووالي ارماني

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

وه. د محکومو قومونو مرستیال وه او د هغه د ژوند په مقاصدو کښې نه خو خپل نوم ګټل وو، نه خو هغه د شهرت اوږے وه او نه ئې چرته د دولت ګټلو او د کُرسۍ حاصلولو مدعا څرګنده کړې وه. یا ئې د دغو څیزونو د خصول دپاره هڅې کړې وي. د هغه د ژوند مقصد د ضعیفو، مظلومو او د زېلو انسانانو خدمت کول وو. په هغوي کښې بېدارے پېدا کول وو او هغوي له خپلو حقونو نه خبرول او هغوي منظم کول وو او چې ما کله د هغه د مقالو او نظمونو مطالعه کړې ده نو زه په دې حقیقت رسېدلے یم چې د مرحوم تر ټولو لوئے ارمان، آرزو او خواهش دا وه چې یو ازاد او خپلواک پښتون دولت دې تاسیس کړے شي خو چې په دغه دولت کښې استحصال نه وي او طبقاتي لاندے باندے نه وي. هغه په خپلو مقالو کښې په ډېرو موضوعاتو ښه په ایمانداری، بغېر له څه پس و پېش نه او بغېر له اګر مګر نه لیکل کړي دي. هغه کله د قوم او قومیت په موضوع څه لیکلي دي یا د مذهب باره کښې یا بیا په خاصه توګه د ادب باره کښې. کله سیاسي موضوعاتو باندې ئې قلم چلولے دے او کله په فلسفه ئې څه لیک کړے دے نو د هغه لیک به خپل مقصد بیانولو کښې واضح او هیڅ قسمه ابهام او کږکیچ به پکښې نه وه. نو د داسې شخصیت باره کښې راته لیکل دومره ګران په دې هم شول چې زما او د مرحوم ترمنځه:

KITABOONA LOGSPOT.COM

چه نسبت خاک را به عالم پاک

او چې خان ته مې فکر شو نو ما وې چې:

من آنم که من دانم

خو باوجود د دې هم د محترم پروفېسر صاحب حکم شاته غورځول هم راته مناسب ښکاره نهٔ شول او د مرحوم باچا جي په دغه لږ کلام مې سوچ او فکر وکړو او د کلام په مناسبت سره غواړم چې زما ذهن ترې څۀ اخذ کړل چې خپل نور ملګري او لوستونکي هم په خپله مطالعه کښې شريک کړم او دغه شان د مرحوم باچا جي په وساطت سره خپل نوم محفوظ کړم. د مرحوم باچا جي د دومره لږ کلام په سبب پوه نهٔ شوم چې آيا مرحوم خپل نور کلام ضائع کړے دے يا ضائع شوے دے او يا کۀ موجود دے نو چرته دے؟ دغه سوالونه بهرحال څکه پېدا کېدے شي چې د مرحوم د موجوده کلام نه دا واضحه ښکاري چې دا د مرحوم ابتدائي کلام نهٔ دے او نه د ځوانۍ د ولولو او جذبو نه ډک کلام دے. بلکې زما په خيال دا کلام د باچا جي د هغه دور سره تعلق لري چې کله هغوي د خپل ژوند يو مقصد ټاکلے وۀ او په يو ځائے مستقل ولاړ وۀ. خو د دغه کلام پوخوالے، مقصديت او خوند رنګ او شعري خوبۍ د صنعتونو استعمال او د الفاظو جوړښت دا ټول د دې ګواهي ورکوي چې مرحوم باچا جي د دې نه اګاهو مشق سخن کړے دے او دا ئې چرې هم نهٔ خو ټول کلام دے

KITABOONA BLOGSPOT.COM

او نهٔ داسې کېدے شي. ځکه چې په ورومبي نظر مې د هغوي په دغو کاغذونو کښې ورومبے کلام ولوستو نو په دغه کلام کښې د شعري خوبيو، سجع او شعري صنعتونو او د الفاظو زېروبم راته زما پورتنۍ دعوې واضحه کړې. په دغه غزل يا نظم کښې چې مطلع ئې ده:

لويې څو جرګې په پښنور کوو
بيا به سم ګوزار په ستمګر کوو

د دغه غزل فني اړخونه او مقصديت دومره اثر انګېز دے چې د يو قادر الکلام شاعر نه علاوه د هر چا د وس خبره نهٔ ده او دا لوړه شعري رتبه د هر چا په نصيب شوې نهٔ ده. په دغه نظم يا غزل کښې چې د کومو صنعتونو استعمال شوے دے په مختصره توګه ورته اشاره کول ضروري دي لکه:

تجنيس مضارع : په کلام کښې دوه داسې لفظونه راوړل چې د هغې د حرفونو شمېره خو برابر يا يو هومره وي ولې يو حرف پکښې مختلف وي لکه عطا، خطا يا رحمت او زحمت چې په دغو کښې يو يو حرف مختلف دے. د باچا جي دغه شعر ئې مثال دے:

تک به د توپک وي په اتک باندې
دغه شر محشر له يو اشر کوو

په دې شعر کښې محشر او اشر کښې يو حرف مختلف دے

KITABOONA
LOGSPOT.COM

تجنيس لاحق: په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو تعداد ئې يو هومره وي او يو حرف پکښې مختلف وي او دغه حرف په تلفظ کښې هم د بل نه مختلف وي لکه د باچا جي دا شعر:

تېر چې شي دا تور شبخون په خور پښتون
بيا باچا اختر به په باختر کوو

په دې شعر کښې په تور او خور کښې يو حرف مختلف دے خو د حرفونو شمېر ئې برابر دے او په تلفظ کښې ئې فرق دے يعني په يو کښې (ت) او بل کښې (خ) ده.

تجنيس زائد : په کلام کښې دوه داسې لفظونه راوړل چې حرکات او سکنات ئې يو شان وي او په قسم کښې هم يو له بله جدا نه وي خو په يو کښې له بل نه حروف زيات وي. دا د حروفو زياتوالے د ټکي په منځ کښې هم کېدے شي په سر کښې هم او په اخر کښې هم راتلے شي لکه:

ټک به د ټوپک وي په اټک باندې
دغه شر محشر له يو اشر کوو

په دې شعر کښې ((شر)) او ((محشر)) متجانسين دے. په يو کښې د بل نه دوه حرفونه زيات دي.

او دا شعر ئې د تجنيس مطرف مثال دے:

KITABOONA BLOGSPOT.COM

دلته اباسين هلته پښين نيسي
يو ښکر شي لښکر په قبضه کړ کوو

په دې شعر کښې ښکر او لښکر متجانسېن دي. په لښکر کښې يو (ل) سېوا دے. تجنيس مطرف هغه قسم دے چې پکښې د متجانسېنو په اخر کښې د يو حرف کمے زياتے وي لکه د باچا جي مرحوم دغه پورتنے شعر.

صنعت شبه اشتقاق : دا هغه صنعت دے چې کله يو شاعر په کلام کښې څو داسې لفظونه راوړي چې هغه د يو مصدر نه وتلي ښکاري خو ولې په حقيقت کښې داسې نۀ وي. دغه شان صنعت په صنعت شبه اشتقاق بللے شي لکه د باچا جي مرحوم د لاندېني شعر په دواړو مصرعو کښې دا صنعت موجود دے:

تک به د ټوپک وي په اټک باندې
دغه شر محشر له يو اشر کوو

په پورتني شعر کښې ټک، ټوپک او اټک په ظاهره خو داسې ښکاري لکه چې له يو مصدر نه وتلي وي حالانکې داسې نۀ ده. دغه رنګې شر، محشر او اشر هم دي. په دغه نظم يا غزل کښې داسې مثالونه نور هم ډېر دي.

صنعت سجع : په شعر کښې يا په يوه فقره کښې داسې الفاظ راوړل چې د هغې اخري حرفونه يو شان وي لکه باران،

KITABOONA BLOGSPOT.COM

جانان، مهمان وغېره. د دې ټولو لفظونو اخري حرف يو دے دې ته سجع وئيلے شي. دا به پخوانو خلقو زيات پکارول اوس هم د نثر ښائست ګڼلے شي. خو په نظم کښې هم د ښکلا او حسن باعث وي. د مرحوم باچا جي په کلام کښې ئې مثالونه موجود دي لکه:

ټک به د ټوپک وي په اټک باندې
دغه شر محشر له يو اشر کوو

يا دا شعر

دلته اباسين هلته پښين نيسي
يو ښکر شئ لښکر په قبضه کړ کوو

د وړومبني شعر په وړومبي مصرع کښې ټک، ټوپک او اټک. په دوېمه مصرع کښې شر، محشر او اشر. د دوېم شعر په وړومبي مصرع کښې اباسين او پښين خپلو کښې سجع لري. او په دوېمه مصرع کښې ښکر، لښکر، قبضه کړ داسې الفاظ دي چې پکښې د سجع مثال موجود دے او د دغه نظم يا غزل څنې نور شعرونه هم د دې مثال دے.

صنعت تضاد يا طباق: په کلام يا شعر کښې داسې لفظونه راوړل چې د يو بل ضد وي لکه خندا او ژړا، غم او ښادي. ورځ او شپه داسې صنعت ته د تضاد يا طباق صنعت وئيلے

KITABOONA BLOGSPOT.COM

شي د مرحوم باچا جي په شعرونو کښې ئې ګڼ مثالونه شته لکه:

نـه دي سرپرسـت چـې قـام پرسـت نـه وي
دا دراز خبـــره مختـــصر کـــوو

په دې شعر کښې دراز او مختصر خپلو کښې متضاد دي.

د رڼـا پـه شیـشه سـپینه، دې بـاران د تـورو کـاڼو
د اسمان نه تر زمینه، د اوچتې شپې غورځنګ د ے

په دې شعر کښې سپین او تور د يو بل متضاد دي. دغه شان اسمان او زمکه هم د يو بل متضاد دي.

خاموشـې شـونډې ګنـډلي، دي لېوالـه د يـو چغـې
غلـے والـے ورتـه وائـي يـو نغمـه د شـور و شـر ده

په دې شعر کښې خاموشي او چغه، غلے والے او شور و شر د يو بل متضاد دي.

صنعت مراعاة النظير : په شعر کښې داسې شعرونه راوړل چې تضاد پکښې نه وي صرف د يو بـل سره مناسبت لرونکي او د يوې سلسلې وي داسې صنعت ته صنعت مراعـاة النظير وئيلے شي. د مرحوم باچاجي دغه شعر ئې غوره مثال د ے:

ګـل بـه شـي، غنچـه بـه شـي، چمـن بـه شـي
دا بـې سـره دشـتې واک کامـل غـواړي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

په دغه شعر کښې ګل، غنچه او چمن د يوې سلسلې الفاظ دي او په خپلو کښې متضاد هم نهٔ دي.

ستا د ګل رنګ بدن د پشم باران راغے دلته
زما د ملک ترږې ورشو باندې بس سم وريږي

صنعت تدبيج : په شعر کښې چې د مختلفو رنګونو ذکر وکړے شي نو دې ته صنعت تدبيج وئيلے شي. د مرحوم باچاجي دا لاندينے شعر ئې مثال دے:

څهٔ ښکلے تجويز دے وړاندې کړے يار
شنهٔ بنګړي ماتيږي سرهٔ پائل غواړي

په دې شعر کښې شنهٔ او سرهٔ د رنګونو ذکر دے نو دا صنعت تدبيج دے.

صنعت مخاطبه : اکثر شاعران په کلام کښې ځان ته مخاطبه کوي او دا مخاطبه يوائې په مقطع کښې نهٔ کوي بلکې په مطلع کښې هم کيدے شي. د باچا جي مرحوم دا شعر ئې مثال دے:

د زړهٔ وينې څښه انوره
د شرابو چې ګراني ده

KITABOONA BLOGSPOT.COM

قلب مستوي : په کلام کښې داسې ټکي راوړل چې د دواړو ډډو نه يو شان لوستے شي لکه درد ، کاواک، نادان، دې ته قلب مستوي وائي. په شعر کښې ئې مثال داسې دے:

د انــور شــعر نـــه نــشې ثــاخي نــن
جــوړ د وصــال هغــه مــے دۀ ثــبنلي دي

په پورتني شعر کښې ((نن)) داسې لفظ دے چې د دواړو ډډو نه ولیکلے شي نو بیا هم هغه لفظ جوړيږي. دا د قلب مستوي مثال دے.

صنعت حسن تعليل: په کلام يا شعر کښې د څۀ صفت دپاره داسې سبب يا وجه پيدا کول چې په حقيقت کښې ئې هغه وجه يا سبب نۀ وي ولې په کلام کښې د باريکۍ او خوند پيدا کولو دپاره داسې شوے وي. لکه د باچاجي مرحوم دا شعر:

د شفق په سوزکي رنګ کښې د آفتاب د قتل رنګ دے
د افق سينه زخمي ده ماښام وينو کښې رنګ بنګ دے

په دې شعر کښې د ماښام د شفق ذکر دے چې د هغې اصلي وجه بله ده خو شاعر د آفتاب قتل او د افق د زخمي سينې نه د وينو د راوتلو او ماحول سُور کولو ذکر کړے دے.

KITABOONA BLOGSPOT.COM

صنعت تلميح : په کلام يا شعر کښې زړې تاريخي واقعې ته اکثر شاعران اشارې کوي داسې صنعت ته صنعت تلميح وئيلے شي لکه د باچاجي مرحوم دا شعرونه:

مونږه د خليل رسم په ځان منو
خلق که حلال کړي قرباني کوي

په دې شعر کښې د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ تاريخي واقعې ته اشاره ده او يا لکه چې په دې شعر کښې د امام حسينؓ او د يزيد دواړو په لور اشاره ده او د کربلا تاريخي واقعې ته پکښې اشاره شوې ده:

قاتلان دي يزيديان دي
بيا حسينؓ دے کربلا ده

تشبيه: د تشبيه معنٰي په لغت کښې د مشابهت، په شان، په څېر، په مثل ده. يعني يو څيز د څهٔ خاص صفت په وجه د بل په شان ګرځول چې د اورېدونکي يا لوستونکي په زړهٔ کښې د هغه څيز تصوير وګرځي. باچاجي مرحوم چې کله د خپل خوږ او ګران وطن قيصه کول غواړي نو هغهٔ تهٔ په خپل وطن کښې هغه ټولې ناکړدې، بې انصافۍ، بې اعتدالۍ او ظلمونه، بې عدالتۍ او طبقاتي لړي بري په دروغو او چل ول په اقتدار قبضه کول، د خلقو په حقوقو ډاکې اچول د وطن وسائل او ذرائع لاندې کول. غرض دا چې په دې وطن کښې په ماضي

کښې څهٔ شوي دي نو هغه ټول ورته ياد شي. هغه ئې مخې ته ودرېږي او د وطن د قيصې چې کوم خوارهٔ وي د هغې سره چې د بنده زړهٔ څنګه د خوشحالۍ نه ټوپ وهي، نو باچاجي نهٔ خو دغه خوارهٔ محسوسوي او نهٔ د هغهٔ زړهٔ د وطن دننه څهٔ خوشحالي او ښادي ليدلې ده. چې هغه د وطن د نوم اورېدو سره خوشحالي او ښادي محسوس کړي. نو هغه د خپل زړهٔ د وطن د قيصې او اورېدو د حالت نقشه په داسې تشبيهاتي انداز کښې وړاندې کوي ليکي:

لکه د ژمي په ماښام چې تورې لړې راشي
لا يو مزدور د کارخانې نه ترجونګړې راشي
لا يو دهقان د خان پټي نه کور ته ستړې راشي
لا يو سوالګرے د مالداره وروځې خړې راشي
لا بېګناه قېدي زندان ته لکه مړے راشي
لا يو مظلوم د ظالمانو نه درګړے راشي
زما زړګيه بس د خوږ وطن قيصه داسې ده
د اورېدو نه ده قسم دے چې ترخه داسې ده

د دغه نظم دوېم بند او څلورم بند هم دغه تشبيهاتي انداز لري.

د دغو مختصرو صنعتونو او فني لوازماتو نه غرض دا ثابتول او جوتول وو چې د مرحوم باچاجي دغه شاعري کهٔ

KITABOONA LOGSPOT.COM

هر څو زمونږ تر لاسونو د هره لره رارسېدلې ده خو د ښې شاعرۍ صفات او لوازمات پکښې موجود دي او دا د دې خبرې ثبوت هم دے چې دا موجوده کلام د باچاجي مرحوم نمائنده کلام دے او په هيڅ جوړ د هغوي ابتدائي کلام نۀ دے او شايد چې دا د هغه وخت کلام وي چې کله د هغوي د شعر د ېګ ښۀ پوخ شوے وۀ.

باقي د مرحوم باچاجي د کلام موضوعات او غرض او مدعا څۀ ده؟ څرګنده خبره ده چې باچاجي مرحوم د فن د ژوند دپاره د نظريې علمبردار وۀ او د فن برائے فن د نظريې ناقد وۀ. يو ترقي پسند او قوم پرست شاعر وۀ او د يو ترقي پسند او قوم پرست شاعر نه چې څۀ توقع کېدے شي مرحوم باچا جي په دغه توقع پوره دے او د يو مترقي شاعر او قوم پرست نه چې په کومو موضوعاتو د وېنا توقع کېدے شي نو د مرحوم باچاجي په کلام کښې دغه موضوعات، خيالات او احساسات ښۀ په واضحه توګه موجود دي. خو د فن وجود ته ئې نقصان نۀ دے رسولے. چې د هغوي د قادر الکلامۍ او فني پوهې يو غټ دليل دے. د مرحوم باچاجي شاعري اګر چې په مقدار کمه خو په معيار سمه ده او پکار دي چې د پښتو معاصر ادب د دغې شاعرۍ د خوند او رنګ نه محرومه پاتې نۀ شي. د ډاکټر پروفېسر محمد زبير حسرت مننه کوو چې هغوي د مختلفو ذريعو نه دغه کلام راغونډ

KITABOONA LOGSPOT.COM

کړو. ترتيب ئې کړو او د ادب د مئينانو په وړاندې ئې سوغات کړو.

الله پاک دې وکړي چې د مرحوم نثر او نظم زمونږه د اولس په ښه راشي او الله پاک دې مرحوم په خپل رحمت ونمانځي او د هغهٔ کلام دې د پښتونخوا د اولس په ښېګړه راولي. آمين.

فرهاد محمد غالب ترين
صدر
مرکزي پښتو ادبي جرګه
نوښار پښتونخوا

KITABOONA LOGSPOT.COM

شېر علي باچا انور
او د هغهٔ شاعري

تېر چې شي دا تور شبخون په خور پښتون
بيا باچا اختر به په باختر کوو

نن د محترم ملي اتل شېر علي باچا انور يادول په څو وجوهاتو ډېر ضروري دي. يو خو په دې چې خپل مشاهير او مشران هېرول د ژوندیو قامونو شېوه نهٔ ده او بل په دې وجه چې په پښتون اولس د دوي په درونـد پښتون وطن ((پښتونخوا)) او د دوي په خوږه مورنۍ ژبه پښتو له هره لوري د خزان سپېرهٔ بادونه راالوتي دي. پښتون تس نس او تالاترغه پروت دے او تېرے پرې لادا چې له هره اړخه قتلېږي، وژلے شي، نوغے ئې ورکولے شي او ملامته کولے هم شي. نن په تهوله نړۍ کښې پښتون له دهشت ګرد نامه ورکړې شوې ده او د پښتون د جنت جنت وطن پښتونخوا حالت خو دا دے چې د فوځي يرغلونو په زد کښې دے. لر او بر دواړه لوريه په پښتانهٔ تورې نورې جوړې دي، جبر پرې کېږي، تعليم نشته، کالج نشته. مدرسې او د زدکړې ادارې نشته، عدالت نشته،

KITABOONA LOGSPOT.COM

د رائې ازادي نشته او هغه خبره چې د چا زور دے د هغۀ شور او د هغۀ کور دے. د دنیا لوئي طاقتونه په دې یوه خبره متفق دي چې په هر رنګ وي، پښتون بدنام کړي او پښتون په تور او زور ووژني او پښتون بې غمه، بې درده، بې فریاده، بې اوازه قتلېږي او هم بدنامېږي او د پښتو ژبې حالت دا دے چې د نصاب له کتابونو په یوه او بله بهانه بهر کولے شي. کله ورته عربي رامخکښې کړے شي، کله د ډرائنګ په مقابله کښې کېښودے شي او کله د کمپیوټر د زدکړې له لارې د پښتو قتل عام روان دے. ورانډې چې به د ټیلي وژن نه د پښتو په هفته کښې دوه درې ورځې کوم د یوې یا نیمې ګېنټې پروګرامونه ټیلي کاسټ کېدل، هغه هم په عامو پښتنو بند کړي شوي دي. دا رنګ په ریډیو هم پښتو پروګرامونه په نشت حساب دي او چې کله چې بنده د دې دور مناسبت سره خیال کوي چې دا دور د الیکټرانک میډیا او پرنټ میډیا دور دے نو د پښتو پکښې څۀ برخه نشته او کۀ څۀ لږه شان شته هم، نو د هغې د ختمولو دپاره د یوې منصوبې لاندې سازش روان دے. نو په داسې حالاتو کښې مونږ ته شهر علي باچا انور مرحوم خکه رایادېږي چې دغو خلقو د پښتون اولس، د پښتون وطن. د پښتو ژبې، د دې خاورې او اولس د ابادۍ، ازادۍ او سوکالۍ دپاره یوه اوږده مبارزه کړې ده او هم د دغه مبارزې نتیجه وه چې پښتو ژبه په طور د لازمي

مضمون د صوبې په سکولونو کښې منلې شوې وه او د ټولې صوبې په سکولونو کښې لازمي وه او هم د دغو مشرانو د جدوجهد برکت وۀ چې پېرنګيان لاړل او دلته ازادي راغله او واک اختيار د وطن د اولس شو. خو پېرنګي انتظام بلکې ظلم دا وکړو چې يو خوا ئې خپله ژبه په مونږه مسلط کړه او بل خوا ئې راباندې اردو راوتپله او داسې خلق ئې په يوه بهانه او په بله بهانه په دې وطن مسلط کړل چې د دې وطن ژبې تالا ترغه کړي او د يوې مشترکه ژبې د مسلط کولو او د نورو ژبو د محکوم کولو دپاره ئې هر يو غير اخلاقي، غير انساني، غير اسلامي او غير جمهوري کار روا وګڼلو او انجام ئې دا شو چې د پاکستان اکثريت ئې دې ته اړ کړو چې د دوي نه خپله لاره جدا کړي. دوي دا خو ومنله چې دغه خاوره او دغه خلق دې جدا شي خو چې د دوي دغه مقدسه ژبه بحال پاتې شي. دغه ژبې ته دوي د هر څۀ نه زيات تقدس ورکړو. تر دې چې د دې په سر ئې د حريت پسندو بنګاليانو سرونه چخښې کړل، د هغوي وينې ئې تويې کړې خو د هغوي ژبه ئې ونۀ منله او دا نن چې هر کال د بين الاقوام (اقوام متحده) د قرارداد له رويه د يويشتمې فرورۍ ورځ د ژبو د عالمي ورځې په مناسبت نمانځلې شي، دا هم د هاغه غيرتي بنګاليانو د خپلې مورنۍ ژبې سره د ډېرې مينې او وينې وينې قربانۍ نتيجه ده. د دغو خودغرضو او نادانانو خدا

KITABOONA LOGSPOT.COM

پرستو په خيال صرف د دوي اردو ژبه دا صلاحيت او اهليت لري چې دا دې قامي ژبه وي. خو دغو نادانانو چرې دا فکر ونه کړو چې اردو د کوم قام ژبه ده؟ اول خو ورته قام پيدا کړئ کنه قامي ژبې خو هاغه وي چې قام لري لکه پښتو، سندهي، بلوچي، سرائيکي، براهوي، چترالي، پنجابي او داسې نورې ژبې. نو په داسې حالاتو کښې مونږ ته هاغه ټول مشران راياد شي چې د پښتون قام، پښتونخوا او پښتو ژبې دپاره ئې جدوجهد کړے دے او د قامي حقونو د حصول په غرض ئې هلې ځلې کړې دي او په دغو محترمو خلقو او هستيو کښې د شېر علي باچا انور مرحوم نوم هم روښانه او ځلانه دے.

هرکله چې په کال ۱۹۳۳ کښې په نوښار کښې د ځينو پښتو مئينانو محترمو مشرانو په هلو ځلو د پښتونخوا اولنۍ باقاعده پښتو ادبي جرګه جوړه کړې شوه نو هغه وخت د دې وطن د پوهانو خيال دې خوا راغلو چې پښتون اولس په علمي، تعليمي، ثقافتي او ادبي لحاظ ډېرو وروستو پاتې دے. دا قام هم لکه د نورو قامونو دا حق لري چې پرمختګ وکړي او پښتو ژبه هم دا حق لري چې دا دې تعليمي، دفتري او علمي ژبه شي او په دې ژبه کښې دې ټول عصري علوم منتقل کړے شي. هم د دغه جذبې او احساس ترمخه د پښتو ادبي جرګې نوښار د دغه غرض دپاره په مختلفو موضوعاتو

KITABOONA BLOGSPOT.COM

کتابونه ولیکل، اخلاسونه کېدل، مشاعرې کېدې او خلق ئې دې ته کمارل، لمسول او راهڅول چې خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته توجه وکړي او هم د دغه جرګې برکت وۀ چې د رحمان بابا او خوشحال خان خټک مزارونه دریافت او بنائسته کړے شو او کلیزې دستورې او مشاعرې شروع شوې او خبره تر دې حده لاړه چې د افغانستان حکومت د دغو دواړو مشاهیرو د مزارونو دپاره تعویذونه راولېږل. د نوښار پښتو ادبي جرګه لا تانده او فعاله وه چې په کال ۱۹۵۰ کښې د پېښور په ((بزم رحمان)) کښې د محترمو امیر حمزه خان شینواري، کاکاجي صنوبر حسېن مومند او دوست محمد خان کامل مومند په مرسته او هلو ځلو د ((اولسي ادبي جرګې)) بنیادي تیږه کېښودې شوه، چې د خپلو نورو ډېرو زلمیو شاعرانو، ادیبانو او منورینو په مرسته ئې پښتو ژبې، ادب، ثقافت، صحافت او پښتون سیاست ته ډېره وده او کټه ورکړه. تحقیقي، تنقیدي، علمي او ادبي مقالې او مضامین ولیکلې شو، کتابونه چاپ کړے شو، افسانې لار ومونده، تکل رواج شو، خاکې راښکلې شوې، په انقلابي نظمونو او رومانوي او مقصدي غزلونو او مجموعي طور سره ټوله پښتو شاعرۍ کښې د کلاسیکي او روماني شاعرۍ د امتزاج نه جدیده شاعري منځ ته راغله. اولسي ادبي جرګه کښې د خپل عصر مشهور شاعران، ادیبان او منورین کۀ د هرې نظریې او

عقیدې سره تړلي وو، خو د پښتو د ودې او پرمختګ دپاره یوه ځُلۀ وو او په دې هیڅ قسمه سودا بازۍ او سمجوتې ته نۀ وو تیار.

هم د دغه جرګې روښانه فکرونه وو چې په ټوله پښتونخوا کښې ئې ادبي تنظیمونو، ټولنو، جرګو او مرکو ته لاره هواره کړه او دا شان په مردان کښې د ادبي فعالیتونو جاري ساتلو دپاره د مردان مشرانو شاعرانو ادیبانو په کوششونو د ((پښتو ادبي جرګه مردان)) په نامه یوه جرګه جوړه کړه چې میا خیر الحق ګوهر کاکاخیل، لالا غلام سرور، قمر راهي، اصغر لالا او شیر علي باچا انور ئې روح روان وو. پیر ګوهر، اسرار د طورو، ډاکټر محمد اسرار، ډاکټر محمد همایون هما، عبدالرؤف زاهد، محمد اقبال اقبال او عبدالواحد قلندر اومه ځُلۀ هلکان وو. د جرګې اجلاسونه به هره هفته باقاعدګۍ سره د شیر علي باچا انور د وکالت په دفتر (بالاخانه، ګولډن سنیما سره نزدې) کښې کیدل. دلته د مردان د ډېرو نامتو شاعرانو، ادیبانو روزنه او خصمانه شوې ده او زړونو او ذهنونو ته ئې د خپلو رڼو او زرینو فکرونو نه رڼا، ځلا او ښکلا ورکړې ده. د شاعر په قول:

ډیر تفاوت دے په انسان کښې فکر وکړه

واړه لګیا دي، خو څوک ځان او څوک جهان جوړوي

دغو خلقو ځان هېر کړو او د جهان جوړولو نيت ئې وتړلو دغه د مردان د ادبي فعاليتونو او د نورې صوبې د مختلفو ځايونو د مختلفو تنظيمونو سره د راشه درشه او رابطو زرينه دوره وه ځکه چې ادب، ثقافت، صحافت او سياست په عروج وو

د شېر علي باچا انور د ژوند حالات

د ۲۷ جولائي ورځ د پښتون ملي رهبر، مايه ناز او ممتاز ملي دانشور او د شلمې صدۍ د عظيم انقلابي رهنما، د کسان تحريک باني او د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ د سېکرټري جنرل مرحوم شېر علي باچا انور د کليزې ورځ ده او دا ورځ د ټولې دنيا د محنت کشو دپاره عموماً او د پښتون قام دپاره خصوصاً د شلمې صدۍ د انقلابي رهبر شخصيت د وياړ وړ کارنامو، انساني خدماتو، قامي خدماتو ته د انتهائي عقيدت او احترام ورځ ده.

مرحوم شېر علي باچا انور د پښتونخوا په نامتو خاوره د مردانو ښار هوتي مردان کښې په کال ۱۹۳۵ کښې د پخواني خدائي خدمتګار تحريک د يو مشهور او اهم سياسي خاندان د سيد اکبر شاه باچا په کور کښې وزېږېدو. د دوي پرورش او تعليم و تربيت په انتهائي مهذب او علمي ماحول کښې وشو په کال ۱۹۵۰ کښې ئې د ګورنمنټ هائي سکول نمبر ۱ مردان نه لسم پاس کړو او څۀ موده ئې په ضلعي

KITABOONA LOGSPOT.COM

دفتر کښې ملازمت وکړو. خو دې حساس ذهن ته د سرکار نوکري راس نۀ وه ځکه ئې پرېښوده او تعليمي سلسله ئې جاري وساتله. د مردان کالج نه ئې ثوارلسم پاس کړو او په ۱۹۶۲ کښې ئې د کراچۍ نه د ايل ايل بي (وکالت) ډګري واخسته او په مردان کښې ئې وکالت شروع کړو. خو د خپل سياسي چاپېرچل او علمي ادبي سرګرميو له کبله ئې وکالت هم پرېښودۀ.

مرحوم شېر علي باچا انور د طالب علمۍ د زمانې نه د قومي سياسي تحريک يو فعال او نۀ ستړے کېدونکے غړے وۀ او په ډېره کم عمرۍ کښې د نېپ (نېشنل عوامي پارټۍ) سياسي مشر وۀ چې د خپلو سياسي فعاليتونو له کبله په اولس او خواري کښه طبقه کښې مشهور وۀ. چونکې مردان د سياسي او علمي ادبي سرګرميو مرکز وۀ، دلته ورته د ډېرو نظرياتي ملګريو مرسته او ملګرتيا په لاس ورغله چې وړاندې ئې تذکره وشوه.

مرحوم شېر علي باچا انور د سياسي فعاليتونو سره سره خپلې ادبي سرګرمۍ هم جاري وساتلې. دلته ئې په پښتو ادبي جرګه مردان کښې او په کراچۍ کښې د ((عدل)) رسالې په ذريعه په ادب او صحافت کښې لوئے نوم پېدا کړو او د نېشنل عوامي پارټۍ د زلمي سياسي رهنما په حېث ئې شپه ورځ نۀ ستړے کېدونکې سياسي مبارزه جاري وساتله او د

KITABOONA
LOGSPOT.COM

خپلو غیرتمندو پښتنو وګړیو ئې د پارټۍ په یو مرکز راغونډېدو او منظم کولو کښې تاریخي کردار ادا کړو. شېر علي باچا انور د نېشنل عوامي پارټۍ د منشور مطابق پښتونخوا کښې په محنت کشو خصوصاً کسانانو د فیوډل دور د ناورا ظلمونو خلاف په ۱۹۶۳ کښې کسان کمېټي او کسان مزاحمتي تحریک راجوړ کړو. دا د پښتون قوم د تحریک لویه المیه ده چې د نېشنل عوامي پارټۍ د منشور نه د انحراف په وجه په قومي او طبقاتي سوال (نکته) د انتشار ښکار شوه او داسې پارټي په درېو برخو تقسیم شوه. (۱) نېشنل عوامي پارټي (ولي خان ګروپ)(۲) پښتونخوا نېشنل عوامي پارټي او (۳) مزدور کسان پارټي (دې ډله کښې شېر علي باچا سره افضل بنګش، ستار لالا او زیارت ګل لالا هم شامل وو) شېر علي باچا انور د مزدور کسان پارټۍ په پلیټ فارم غریبانان او کسانان متحد او منظم کړل او د تاریخي کسان تحریک په قربانیو ئې په لکونو غریب اولس له په دې وطن کښې د ملکیت حق او په ټولنه (معاشره) کښې د برابرۍ حېثیت ورکړو او د عزت د ژوند مالکان ئې کړل او دا رنګ ئې د فیوډالي نظام د نارواظلمونو نه د نجات تاریخي کارنامه تر سره کړه. دې سره په صنوبر مجله (چې د کاکاجي صنوبر حسېن یاد تازه کوي) کښې ئې د یو رهنما کردار ادا کړو. چې پکښې فیض احمد فیض، کرشن چندر،

KITABOONA BLOGSPOT.COM

سعادت حسن منټو. حمزه شينواري. احمد نديم قاسمي. سبط حسن، ميجر اسحاق، ارباب محمد خان کاکا او د باچا جي غونډې اوچتو اديبانو د خپلو تحريرونو په ذريعه د انسان دوستۍ، غير طبقاتي ټولنې، ازادۍ او سياسي فهم و فراست غونډې مضامين او د هغې مفاهيم په اولس کښې عام کړل. باچا جي د ايوب خان د آمريت په مارشل لائي دور کښې د روپوشۍ په صورت کښې خپله سياسي مبارزه جاري ساتلې وه او د يحيٰي خان د مارشل لا زياته دوره ئې د ډيره اسماعيل خان جيل په عقوبت خانو کښې تيره کړې وه. په کال ۱۹۷۷ (د ذوالفقار علي بوټو اخري دوره وه او د جابر آمر ضياء الحق د مارشل لا اولنۍ دوره) د خاصو اندروني سياسي حالاتو او بهرنيو سياسي تبديليو تر مخه باچا جي قومي تحريکونو ته د خپلې خاورې خپله پارټي عالمانه مشوره ورکړه او خپله پارټي ئې د پښتونخوا مزدور کسان پارټۍ په نامه اعلان کړه او هم د دې فلسفې ترمخه ئې قومي تحريکونو له تجويزونه ورکول او د خپل موقف وکالت ئې کولو. داسې ئې پښتونخوا مزدور کسان پارټي د استعماري فيوډالي نظام او د ضياء الحق فوځي آمريت برخلاف د هر قسمه قربانۍ دپاره راميدان ته کړه. دغه زمانه (کال ۱۹۸۱) کښې د مارشل لا حکومت په باچا جي ناروا مقدمې راجوړې کړې او د ځينو ملګريو مسلم شاه ايډوکيټ، محب ګل کاکاجي، شيرين

KITABOONA BLOGSPOT.COM

باچا، حبیب الرحمان کاکا او اختر ګل لاله سره ئې ونیولو او تر اتو میاشتو ئې د بالاحصار پېښور په عقوبت خانو او اذیت خانو کښې د خپلو ناوړيو ظلمونو ښکار کړل. چې وروستو ئې په کال ۱۹۸۵ کښې د هري پور جېل کښې بندیوان وساتل باچا جي د محمد خان جونیجو په دور کښې خپله پارټي یو ځل بیا منظم کړه او په کال ۱۹۸۶ کښې ئې د پښتونخوا نېشنل عوامي پارټۍ مشر (محمود خان اچکزي سره) او پښتونخوا مزدور کسان پارټي شریک پښتونخوا ملي عوامي اتحاد قائم کړو او د چتراله تر بولانه تاریخي دورې ئې وکړې او داسې ئې خپل زېلے اولس د قومي نجات پارټۍ د اهمیت نه خبر کړل. هم دا شان ئې د خپله خاوره خپله پارټي تر مخه په کال ۱۹۸۹ کښې[1] د دواړو پارټیو په انضمام په وړومبي ځل د کوئټې (جنوبي پښتونخوا) او پېښور (شمالي پښتونخوا) د درست پښتون یوه شریکه پارټي د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ په نامه راجوړه کړه چې مشر محمود خان اچکزے ئې چئیرمېن او باچا جي ئې تر مرګه پورې سېکرټري جنرل وۀ.

[1] شېر علي باچا په ۱۷ اکتوبر ۱۹۸۸ خپل یو مضمون ((پښتون پارټۍ او د هغې مرام نامه څنګه؟)) کښې لیکلي دي چې (پښتونخوا ملي عوامي پارټي د دوو دوست او مبارز تنظیمونو اتحاد کول په نتیجه کښې مینځ ته راغله یعني د پښتونخوا مزدور کسان پارټۍ او پښتونخوا نېشنل عوامي پارټۍ چې د پاکستان نېشنل عوامي پارټۍ نه په طبقاتي مسئله او په قومي مسئله د اختلاف لرلو په نتیجه کښې جدا او تشکیل شوې وې. (بل مشالونه ؛ ۱۱٤ مخ)

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

مرحوم شير علي باچا انور چې د قومي سياسي تحريک د وحدت او جمهوري شعور په بېدارۍ کښې کوم تاريخي او انقلابي کردار ادا کړے دے هغه به په پښتون قومي تحريک کښې همېشه يادګار وي. باچا جي د خلوېښتو کلونو د اوږدې مبارزې په دوران کښې د محنت کشو، مظلومو انسانانو او خپلو غېرتمندو وطنوالو له خاطره د هيڅ قسمه قربانۍ نه ځنګ و ځټ نهٔ دے کړے. هغوي چې د محنت کشو عالمګير تحريک، قومي تحريک او پښتو شعر و ادب دپاره د خپلو علمي آثارو کومه خزانه په ورثه کښې پرېښې ده چې د دنيا ټول محکوم، مظلوم او مقهور جمهور ترې طاقت، قوت، ګرمي، حرارت او توانائي اخستې شي او څهٔ په ذريعه چې نهٔ صرف مونږ د پښتنو قومي ازادي او خودمختاري او د اولس حکمراني، سوکالي او خوشحالي تر لاسه کولے شو بلکې د سامراجيت او استعماريت غوندې د يو قامته دشمنانو بېخ بنياد هم اېستلے شو. چا چې د دنيا غريب اولس د استحصال او غلامۍ په زنځيرونو کښې ښکېل کړے دے او د چا خلاف چې صنوبر حسېن کاکاجي، عبدالرحيم پوپلزي، سبهاش چندربوس، حاجي صاحب ترنګزئ، باچا خان، عبدالصمد خان، افضل بنګش او د دوي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

په زړګونو ملګريو د جدوجهد عظيم انقلابي بېرغ پورته کړے وۀ.[2]

محترم شېر علي باچا انور په ۲۷ جولائي کال ۱۹۹۸ کښې وفات او خپل پلرني کلي هوتي مردان کښې خاورو ته وسپارلے شو خو د باچا جي فکرونه ((بل مشالونه)) دي چې په هم داسې څول، طوفان او تيارو کښې به همېشه بلېږي او د وطن خواري کښو طبقو او زېلي اولس ته به د نور د منارو په څېر د منزل نخښې روښانه کوي. د هغوي تاريخي کردار، کارنامې، قرباني، شاعري او ادب و علم سره رشته د تاريخ روښانه بابونه دي. پښتانۀ به د هغوي دا اوچت کردار او عمل تل په زړونو او ذهنونو کښې تاند ساتي او همېشه به ورته د قدر په درنه سترګه ګوري او د هغوي د فکرونو سره به خپلو سوچونو ته دوام ورکوي او داسې به د باچا جي نامه هم تل تر تله ژوندۍ وي. د ستر خوشحال خان خټک د دې وېنا په مصداق چې:

مړۀ هغه چې نۀ ئې نوم نۀ ئې نښان شته
تل تر تله په ښۀ نام پائي ښاغلي

[2] د باچا جي د ژوند د حالاتو دا دوېمه برخه د ښاغلي موسٰي خان يوسفزي د مضمون ((شېر علي باچا ايک انقلابي رهبر نه مرتب شوه. (محمد زبېر حسرت)

KITABOONA LOGSPOT.COM

ملي پاڅون ولې؟

ډېر پخوا به زمونږ په حجره کښې رېډيو کابل ډېر په مینه اورېدے شو. يوه ورځ د پروګرام خپرونکي ووئیل چې اوس تاسو ته د محکوم وطن د شاعر شېر علي باچا يو نظم وړاندې کوو او بیا یې دا یو څو شعرونه ووئیل:

لکه د ژمي په ماښام چې تورې لړې راشي
یا یو مزدور د کارخانې نه کور ته ستړے راشي

اتفاقاً ژمے هم وهٔ او ماښام هم، زهٔ ډېر خوشحاله شوم چې شېر علي باچا یو ښهٔ شاعر دے او شعرونه یې تر کابله پورې خوارهٔ شوي دي.

زما په خیال د شېر علي باچا شاعري په درېو دورونو کښې تقسیمېدے شي.

ابتدايي شاعري: زهٔ ډېر حېران شوم کله چې ما د باچا د شاعرۍ متعلق د فرهاد محمد غالب ترین صاحب لیکنه ولوسته. د دوي د تجزیې مطابق د باچا وړومبۍ شاعري ورکه شوې یا ضائع کړې شوې ده. تر څو چې ماته علم دے نو باچا د طالب علمۍ په زمانه کښې شاعري کوله او د اکبر مېموریل کالج کښې چې اوس ګورنمنټ پوسټ ګرېجویټ

KITABOONA BLOGSPOT.COM

کالج مردان د ے. د پښتو ادبي ټولنې سېکټر وۀ او شعرونه او نثر به يې د کالج په ((شفق)) رساله کښې چاپ کېدل او بيا په کراچۍ کښې د وکالت د طالب علمۍ په زمانه کښې د کراچۍ نه د خورېدونکي ((عدل)) رسالې ايډيټر شو او اداريې او ليکونه به يې پکښې کول دا غالباً د کال ۱۹٦۰ زمانه وه دغه وخت به شېر علي باچا خپل شعرونه په يوه توره ډائرۍ کښې ليکل بيا وروستو چې کله باچا وخت په وخت جېلونو کښې بنديوان شو. نو دغه ډائري زما لاس ته راغله او ما ډېر په حفاظت سره د نورو کتابونو يوه الماري کښې کېښوده چې ضائع نۀ شي او دا چې چرته به پکار شي دا ډائري ډېره موده پرته وه. بيا زۀ هم د کلي نه بهر شوم او د الماري مالکان بدل شو کله چې ډېر وخت پس ما دا ډائري لټوله نو په لاس رانغله او تر اوسه ما بيا ونۀ ليده. نو د فرهاد محمد غالب ترين صاحب خبره صحيح ده چې باچا په ابتدايي دور کښې کومه شاعري کړې ده. هغه ټوله لاس ته نۀ ده راغلې بيا هم د دې شاعرۍ زياته برخه د انور په تخلص سره محفوظه ده

هر څو کۀ د باچا په ابتدايي شاعرۍ کښې د ګل او بلبل ذکر شته خو داسې ښکاري چې دې دور کښې هم دوي ته طبقاتي مسئله د هر څۀ نه اهمه ښکارېده او په شاعرۍ کښې يې د استعمارګرۍ او خانۍ مخالفت. د انساني حقونو

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

غوښتنه، د يو انسان په بل د ظلم زور او د وطن د معاشي بدحالۍ ذکر کړے دے. دې سره سره يې د يو داسې قامي بدلون غوښتنه کړې ده کوم چې به د خوارې کښې اولس د بېدارۍ او منظم کېدلو نه پس د وطن د خوشحالۍ سبب وګرځي.

دوېم دور: دا هغه وخت وۀ چې باچا به د شعرونو ليکلو په ځائے د شاعرانو سره په ادبي محفلونو کښې ګډون کولو او د هغوي د شاعرۍ نه به يې خوند اخستلو او يا بيا دا چې د شاعرانو د راغونډولو مرکز وۀ او بيا ورو ورو د ډاکټر همايون هما په قول چې کله يې غم جانان په غم جهان کښې واغړلو نو د انور نه باچا شو، غالباً چې سياسي هلې ځلې دومره ډېرې وې چې د شعرونو ليکلو وخت نۀ وۀ. البته باچا په دې زمانه کښې ډېر زيات نثر وليکلو. په دې کښې سياسي او ادبي ليکونه، مقالې، مضامين، د مزدور کسان تحريک تاريخ او نور ليکونه شامل دي.

هم د دې وخت خبره ده اسرار د طورو زمونږ د اُردو ژبې استاذ وۀ خو په چل چل کښې به يې مونږ ته پښتو ژبه ښودله. يوه ورځ د کور کار Home work دا وۀ چې هلکان به د پښتو يو څو شعرونه (مطلع) ليکي. ما وئيل چې باچا به شعرونو ليکلو کښې زما رهنمايي وکړي. د هغوي نه د پوښتنې نه پس راته باچا ووئيل چې زۀ اوس شعرونه نۀ شم

لیکلې او ذهن ته مې نه راځي. بیا یې ماته خپل دا غزل ولیکلو.

څـــه ازغـــي ازغـــي خـــاني ده
ګلـــو غوټـــه مـــې ځـــواني ده

او وئیل یې چې د دې نه ځان ته څه خیالات Ideas راغونډ کړه.

دریم دور: دا هغه دور وه کله چې شیر علي باچا د طبقاتي مسئلې سره سره قامي ستونزو ته هم اوږه ورکړه. د پښتون قامي مسئلې هم یو طبقاتي شکل واخستو او په حیثیت د یو قام د نورو قامونو نه وروستو پاتې شو. دې زمانه کښې باچا د پښتون قام د ملي پاڅون دپاره هلې ځلې کولې او یو داسې سیاسي ګوند یې پښتنو ته معرفي کړو چې د پښتون قام په قامي او طبقاتي مسائلو یو ښکاره نظر لري. دې ځائې کښې به دا لیکل اهم وي چې باچاجي وړومبې سړے وه چې خپل سیاسي ګوند یې د ((پښتونخوا)) په نامه په شمالي پښتونخوا کښې جوړ کړو او بیا یې د پښتنو د یووالي په غرض جنوبي پښتونخوا سره یو کړو. باچاجي وړومبې سړے وه چې د پښتونخوا په نامه یې سرکلر جاري کړے وه.

داسې ښکاري چې د شاعرۍ په دریم دور کښې باچا د پښتون قام د پاڅون دپاره شعرونه لیکل بیا شروع کړل. دا شاعري ډېره پخه او خوندناکه ده او د دوي تخلص د انور په

KITABOONA BLOGSPOT.COM

ځائے باچا دے. دا شاعري د يو خاص مقصد نه ډکه ده او د باچاجي دا ارمان څرګندوي چې:

- ❖ د پښتنو د عالمانو دعا دې د پښتون قام د ازادۍ او خوشحالۍ دعا شي او دا:
- ❖ چې پښتانهٔ بايد ويښ شي، جرګه شي، خپل دښمن وپېژني، بيا پرې سياسي ګوزار وکړي، خپل ملي حقوق وګټي او د خپل وطن واګې تر لاسه کړي.

دا لړه د فکر او حېرانتيا خبره ده چې د شبېر علي باچا شعرونه اونظمونه ډېره موده خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وو او د کتاب شکل کښې لوستونکو ته وړاندې نهٔ کړے شو؛ د نورو وجوهاتو نه وروستو دا خبره هم ښکاره شوه چې پښتونخوا وطن کښې د پښتو ژبې يوه داسې اداره نشته چې د انفرادي فائدې نه بالاتر د پښتو ژبې خدمت وکړي او د پښتو ژبې نظم يا نثر پښتون قام ته وړاندې کړي. هر څوکهٔ د پښتو اکېډمۍ او مرکزونه وجود لري خو تر څو چې ترې انفرادي يا سياسي فائده نهٔ وي نو د پښتو ژبې د پرمخ تګ دپاره کارونه د نيشت برابر دي.

د ملي پاڅون د چاپ کولو مقصد دا نهٔ دے چې ګني شبېر علي باچا د هر چا نه ستر شاعر دے بلکې دا چې پښتنو ته په حېثيت د يو قام يوه نښغه لاره وښودلے شي چې دوي خپل مرام ته ورسوي او دا چې د باچا پيغام هغه اولس ته ورسي

KITABOONA LOGSPOT.COM

ځوک چې د قام خواخوږي دي. کېدے شي چې د دې کتاب د لوستو په نتيجه کښې په پښتون قام کښې داسې مشران او قهرمانان راپيدا شي چې د باچا شعرونو ته عمل شکل ورکړي او د پښتنو يوه قامي ستونزه حل شي.

د باچا شاعري راغونډول هله ممکن شو کله چې ښاغلي زبير حسرت دې ته ملا وتړله او د باچا خوارۀ وارۀ نظمونه او غزلونه يې تر لاسه کړل، بيا يې د باچا په ژوند او فکر خپل ليک وکړو او ښاغلي فرهاد غالب ترين صاحب ته يې هم خواست وکړو چې د باچا د شاعرۍ جاج واخلي. د دغه دواړو ډېره مننه چې د باچا په شاعرۍ يې خپل درانۀ ليکونه وکړل.

د ډاکټر اسرار د رهنمايۍ او د مراد علي باچا د منډو ترړو نه بغېر د کتاب چاپ کول ممکن نۀ وو. د سيد محمد علي ډېره مننه چې په ډېره مينه يې د کتاب ټائټل جوړ کړو. د مشتاق مجروح صاحب د صبر او صفا کمپوزنګ او ترتيب ورکولو ډېره مننه.

باچا جي کۀ دا کتاب په خپل ژوندون ليدلے وے نو ډېر به خوشحاله شوے وۀ. د هغوي به دا خواهش وۀ چې د هغوي ليک دې په مجلو کښې چاپ شي او په نتيجه کښې دې اولس بيدار شي. هيله ده چې هم دا ځو نظمونه او شعرونه به د قامي ليکوالو، شاعرانو، مشرانو، خواري کښو او طالب

علمانو د پاڅون سبب وګرځي او خدائے دې وکړي چې هم دا پاڅون په ملي پاڅون کښې بدل شي. د باچا جي نور شعرونه او نظمونه کۀ د هغوي ملګرو او د پښتو ژبې او ادب مينه والو سره وي، هغوي ته خواست دے چې هغه يا د هغو نقل مونږ ته راوليږي چې په دوېم ايډيشن کښې يې سره د هغوي د مننې شامل کړو.

په درنښت
د شېر علي باچا کشر ورور
ډاکټر امجد علي
۳۱ مئ ۲۰۱۰ (لندن)

KITABOONA
LOGSPOT.COM

د پښتون دعا

اے طاقته اے قوته، اے قادر په هر صورته
اے رحمانه اے رحیمه، اے جباره اے کریمه

لږ زمونږ په حال بدل شه
د مظلومو سره مل شه
غواړو ستا له برکته
ښځۀ ژوندون ډک له عزته
کۀ شو خلاص له غلیمانو
مونږ به سیال شو د سیالانو
د سنکیانګ نه تر بهکره
له آمو تهیکسلا غره
د چترال نه تر بولانه
له هراته تر واخانه
روهیله افغان ګله که
هر افغان ورسره یار که
یو ئې خُلۀ یوه جرګه که
دوي د خپل وطن مختار که
جګه جګه ئې شمله که

KITABOONA BLOGSPOT.COM

زور غــــزور ئې رابيدار کــــه
ولــــولې ور حوالــــه کــــه
چې اغيــار بانــدې يلغــار کــه
سندهــ، بلــوچ ورســره ملــهٔ کــه
برابــر ئــې پــه قطــار کــه
بيــا ئــې ســم پــه مارګلــه کــه
د مغــل مــرګ تــه ئــې تيــار کــه
پــه رهتــاس ئــې قافلــه کــه
پــه جهلــم ګــودر ئــې پــار کــه
پــه لاهــور ئــې غلبلــه کــه
قبــضه ګــرو زړهٔ قــلار کــه
دبدبــه ئــې پــه انبالــه کــه
د رنجيــت وارث مــردار کــه
پــاني پــت چــې دوالــه کــه
احمــد شــاه ورلــه ســردار کــه
بيــا ئــې ښکار پــه بنګالــه کــه
د شــير شــاه دور دوبــار کــه
بريــالے ئــې پــه کيرالــه کــه
ورســره تمــام بهــار کــه

KITABOONA
LOGSPOT.COM

روهيلکنډ او روهيله که
د حافظ نمسي تاجدار که
په کشمير ئې رساله که
چې کاشغر پورې رفتار که
تۀ ئې دومره بدرګه که
چې فارس ګډ په ناتار که
بيا چې نوره نۀ حمله که
ارادې ئې تار په تار که
سود خوارۀ شيخان ماله که
وران د مصر هر بازار که
اسرائيل چې فيصله که
يروشلم چې خودمختار که
استعمار چې ګرماله که
سامراجيان واړه په دار که
برکت ئې هماله که
فيض ئې عام لکه آبشار که
د دوې سيمه ګلاله که
منطقه ګل و ګلزار که
شګفته زمونږ شله که
وچې ډاګې ئې بهار که

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

په وطن چې معامله که
په سولۍ ئې هر غدار که
پښتو ژبه هر رنګه که
يو يو تکې ئې شاندار که
په هر رنګ ئې کامله که
علم و فن ئې په شا بار که
د باچا بيت کشماله که
قصيده د خپل ديار که

اې طاقته، اې قوته، اې قادر په هر صورته
اې رحمانه، اې رحيمه، اې جباره، اې کريمه

لږ زمونږ په حال بدل شه
د مظلومو سره مل شه
غواړو ستا له برکته
ښه ژوندون ډک له عزته

KITAB TOONA

خوږ وطن

لکه د ژمي په ماښام چې توري لړې راشي
لا یو مزدور د کارخانې نه تر جونګړې راشي
لا یو دهقان د خان پټي نه کور ته ستړے راشي
لا څوک سوالګرے د مالداره وروځې خړې راشي
لا بې ګناه قیدي زندان نه لکه مړے راشي
لا یو مظلوم د ظالمانو نه درګړے راشي

زما زړګیه! بس د خوږ وطن قیصه داسې ده
د اوربدو نۀ ده قسم دے چې ترخه داسې ده

داسې غریب کره ډیوه سم د ماښامه رپي
لکه بیمار په ځنکدن د خپل انجامه رپي
داسې نوکر د خان له ویرې د ناکامه رپي
لکه مجبوره ګډوبدونکې ګل اندامه رپي
داسې غریبه د یخنۍ نه بس تمامه رپي
لکه مېخوار په مېخانه سره د جامه رپي

KITABOONA BLOGSPOT.COM

تهٔ خو مې چېرې چې د خوږ وطن خوارهٔ بيان کړم
زما زړګيه! دلته څهٔ دي اخر څهٔ بيان کړم

چرې رژېږي نه دلې د ارمانونو غوټۍ
ګنې نو هره ورځ رژېږي د ګلونو غوټۍ
دلته تازه اوسي همېش د حسرتونو غوټۍ
ګنې نو ګوره څنګه مړاوې د مخونو غوټۍ
تل په ژړا وي په سلګو د اميدونو غوټۍ
ګنې نو ګوره څنګه خاندي د زخمونو غوټۍ

ما وې د خوږ وطن قيصه ده زهٔ به ئې سپوره نهٔ کړم
خو د احساس چرې مې وژني کهٔ ئې نوره نهٔ کړم

لکه کچه مېوې د باغ سپېره سيلۍ ووهي
لا تيار فصل د دهقان چرته ږلۍ ووهي
لکه د پوه چنۍ کچه کچه غوټۍ ووهي
لا چرته ځول په توره شپه بلا مرغۍ ووهي
لکه ګل چين تازه ګلان په کټارۍ ووهي
لا يو جلاد د چا غلام نه کپرۍ ووهي

KITABOONA BLOGSPOT.COM

داسې مو خوږ وطن په تبر د خانۍ والے شي
داسې دا قام په تېرۀ تېغ د امیرۍ والے شي

زما زړګیه! داسې تېز شوې چې په څۀ غصه شوې
جوړ د وطن قیصه خوږه نۀ ده په دې خفه شوې
زړګي درزا کښې راتـه وې یوه خوږه نغمه شوې
د ازادۍ زېرے مې وکړې په وطن خوره شوې
دې خوارو زار اولس له ورغلے اول جرګه شوې
بیا د وطن په غلیمانو یوه سره لمبه شوې

چې دا ظلمونه، ستمونه ټول ایره ایره شي
بیا به زما د خوږ وطن قیصه ایله خوږه شي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

ښکلي دي چالاکه دلائل غواړي
اوس له عاشقانو وسائل غواړي

ډېره هوښيار تيا زما پکار نهٔ شوه
خلق لرې تېروتي دي جاهل غواړي

ګل به شي، غنچه به شي، چمن به شي
دا بې سره دشتې واک کامل غواړي

پټې مئين او پټه خُلهٔ له خلقو نه
دا تاواني رسم خو قاتل غواړي

خونو کښې بندي ساتي پښتون حسن
دا غوټۍ دې ګل شي څهٔ وئيل غواړي

شتهٔ کره کهٔ لائق، حمزه، غني، اسرار
بيا هم شاعران لکه سائل غواړي

څهٔ ښکلے تجويز دے وړاندې کړے يار
شنهٔ بنګړي ماتېږي سرهٔ پائل غواړي

KITABOONA LOGSPOT.COM

يار چې غټ پټکے په خراسان تاړۀ
اوس له مغلانو فضائل غواړي

تنګ کړو ميکده کښې د زاهد زهد
جام باندې ويشتۀ دغه جاهل غواړي

نن راته باچا يو نکته دان وئيل
ښۀ غزل جوړ ذهن زړۀ ګائل غواړي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

څه ازغي ازغي خاني ده
ګلو، غوټه مې ځواني ده

د سحر طمعې قربان شم
ګنې شپه خو ستوماني ده

ما وې ګل کرم ملګرو
دوي وائي زمکه باراني ده

وچې شونډې مېخوار ګرځي
د ساقي مهرباني ده

نن غوټۍ د رنګ دپاره
ستا د وينې ارماني ده

هسې زيړ دې اننګي دي
خو قيصه دې الواني ده

د زړه وينې څښه انوره!
د شرابو چې ګراني ده

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

د نمر خون

د شفق په سورکي رنګ کښې د افتاب د قتل رنګ دے
د افق سينه زخمي ده، ماښام وينو کښې رنګ بنګ دے
د رڼا په شيشه سپينه، دے باران د تورو کاڼو
د اسمان نه تر زمينه، د اوچتې شپې غورځنګ دے

د يقين ذکر خو پرېږده، اوس ګمان هم زما نۀ شي
د دړدونو مقام ورک دے، اوس ژړا به د چا څۀ شي
نۀ سينو کښې ولولې شته، نۀ جذبې دي چرته پاتې
چې د يار د حسن سنګ وي، نو د شوق سجدې هلۀ شي

رقيبانو ګټه وکړه، د جنګ ختمې مرحلې دي
چې سينو کښې بليدلې، مړې د غم هغه شغلې دي
څوک به چا سره وفا کړي، چرته ښکلې پاتې نۀ شۀ
بس قاتل ته دې دعا کړي، پاتې دغه ارادې دي
خو دا جنګ هغه جنګ نۀ دے چې به ختم شي دا چرې

KITABOONA LOGSPOT.COM

د تیارو د انتها خو، ابتدا د رڼ سحر ده
غوړېدلې ازغي ښائي، قافله د ګلو زر ده
خاموشي شونډې ګنډلې، ده لېوالـه د يو چغې
غلـے والـے ورته وائي، يو نغمه د شور و شر ده

د افتاب د وينې تاج بيا، شمعې هاغه دے په سر کړو
ستورو نُور له نمره واخست، ډک ئې جام ترې سراسر کړو
د ښو په هر يو غشي، ډيوې بلې شوې د اوښکو
منورې روښنايي کښې، هر يو زخم دې تتمر کړو

د ډيوو ژبې که رېږي، يا پړق پړوق دے په اسمان کښې
دا بخرې دي چې نُولي، د دې شپې په لوئے دالان کښې
د دردونو قصه زمکه، لکه ګل وي په سل ژبو
لکه بوئ هسې خاموش دي، لېوني په دې داستان کښې

د تيارو لوړ د هوالونه، چرته درز شو رانړېږي
د ګلونو غندل غاړې، لکه توري چې رقېږي
د بې سره دشت هوا ده، چې تاوونه خوري تاوېږي
د سپرلي نغمه چېړونکي، بلبلان دي هوسېږي
د وفا ښکلي چمن کښې، د زړګي ګلاب موسېږي
له نظر، اننګو، شونډو، سرۀ شراب دي چې توئېږي

د ظلمې خوب د شين بڼ نه، راروان دے نسيم غلے
د بدلون د زهري مشک ئې، هره ساه کښې دے نيولے
وائي کاروان به ضرور درومي، د رنګونو رنها ګانو
د سحر په اوږه باندې، يو تازه افتاب نيولے

(د علي سردار جعفري د اردو د يو نظم نه ماخوذ)

KITABOONA
LOGSPOT.COM

خدائے خبر دا د کوم حسابه راځي
نن دې یادونه بې حسابه راځي

مینه دے ځائے په ځائے تپوس کړي زما
کور ته جوړ بیا خانه خرابه راځي

بېلتون زما د کلے کور سړے دے
په غم ښادۍ مې بې جوابه راځي

ساقي لږ ستړګو سره جام تکر کړه
نشې دې کمې له شرابه راځي

بېلات د حورو شیخ ته نۀ دے منظور
خود ئې نفرت له میو نابه راځي

لا پېچ و خم د زلفو نۀ وباسي
لائې حیا له پېچ و تابه راځي

انوره دار دے کۀ د یار کوڅه ده
آرزو د وصل ترې کامیابه راځي

KITABOONA
LOGSPOT.COM

بدلون

زما د قام د بې وسۍ په سره مېره باندې نن
قطره قطره ستا د رېبار نظر شبنم ورېږي
ستا د ګل رنګ بدن د پشم باران راغے دلته
زما د ملک ترږې ورشو باندې بس سم ورېږي
د پښتنو د خوار چمن په مړاوې شوو غنچو
ستا د تازه لبانو پرخه ده هر دم ورېږي
نن د خوارانو غریبانو په زعفران د جبین
ستا د ګلګون رخسار پونه ده دم په دم ورېږي

چې د بند بز حکم به ئې کو هغه راڼې د نوګرام
خاورې ده، اوس د اشنغر واڼې به څوک بندوي
پښتانهٔ واړه نن قطار ځي د تنظیم په اسمان
اوس کهٔ د لر دي کهٔ د بر زانې به څوک بندوي
چې سپي ازاد وو کاڼي بند وو هغه بل موسم وهٔ
اوس شوه ګرمي د يو بدلون کاڼي به څوک بندوي

(ډېره اسماعیل خان جیل)

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

تلوسې

د مینې ښکلې خوږې دنیا کښې
بېلتون خور کړے د تنګۍ دام دے

له خپل انجامه زهٔ ښهٔ خبر یم
چې مې څکلے د مینې جام دے

چې وي لېواله د اولس غم کښې
زما په هغو زلمو سلام دے

ژوند دے بېدار ښهٔ اودهٔ چې نهٔ شې
دا انقلاب ستا یو لوړ مقام دے

توره وړومبۍ کړه رباب ترې وروستو
د مشرانو د خُلې کلام دے

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

دا چې پنډونه ئې په اوږو وينې
يوه روپۍ ئې د ورځې دام دے

خوارو زېلي، چې را په ياد شي
وينې مې جوش کړے مدام دے

وينې دي ښبني، لاورته ګورې
سر ئې کړه غوښ بنهٔ انتقام دے

کهٔ دې پرې هله وکړه يو ځلې
دا خوږ وطن تاته انعام دے

درغلم داره، د قام دپاره
دغه رسو کښې لوئے احترام دے

د ژوند تيارو کښې چې وروستو نهٔ شې
منزل ته پاتې بس يو ګام دے

(پښتني ارمان ۷۳ مخ افغانستان چاپ کال
غالباً ۱۹۵۸)

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

ما شربتونه چې خوارۀ څښلي دي
تراخۀ غمونه مې پاخۀ څښلي دي

خُم خو دا یو دے اے ساقي د دنیا
چا ترې خیرن او چا رانۀ څښلي دي

د مجازي میو په جام کښې اشنا
حقیقتونه مې تراخۀ څښلي دي

ستا خماري سترګو نشه کړمه زۀ
بیا هم لاوایئ چې تا څۀ څښلي دي

د ژوند قیصو باندې پوه شوے یمه
ما شرابونه چې زاړۀ څښلي دي

د انور شعر نه نشې څاڅي نن
جوړ د وصال هغه مې دۀ څښلي دي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

څه ازغي ازغي فضا ده
د ګلونو غوښه ساه ده

قاتلان دي بزيديان دي
بيا حسين د ے کربلا ده

چا د حق خبرې وکړې
زنځيرونه دي ښنا ده

بيا په ظلم خُله راسپړم
بيا د جېل دروازه وا ده

خو منزل ته رسيدل دي
په ښکاره ده که په غلا ده

KITABOONA
LOGSPOT.COM

خود به دلته خزان وینې
چرته به خیرې ګرېوان وینې

د شرابو ګراني راغله
اوس به څه څښي رندان وینې؟

کړل تېرو د خانۍ نوکو
دهقان وینې کسان وینې

د چمن ګلان دي تږي
لږې ورکړئ د ځان وینې

د مئینو به څه حال وي
لمن خیرې ګرېوان وینې

یو سپوږمۍ کښې بل وېتنام کښې
دا دے فرق د انسان وینې!

KITABOONA LOGSPOT.COM

هلته په مخ زلفې ول ول لګي
دلته په زړۀ مې غشې بل لګي

د ګورو زلفو په تيارو کښې پټې
د سبا نخښې په يو چل لګي

د ډېرو جونو د ژوندون خوشحالي
نيازبينې ستا په رنګ محل لګي

چا له په مخ شينکي خالونه وهم
ځکه ګولۍ مې په ګوګل لګي

رقيبه! پوه شه چې اجل دې راغې
د اور لمبې ستا په بورجل لګي

زما د ژوند تلوسې مۀ تپوسه
خومره چې دي ستا په اردل لګي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

څوک چې چمن کښېږ سېل د ګلو کوي
نن په هغوي چغې د غل لګي

اوس مې د زړهٔ هره سودا انوره
دیوسبا بس په تکل لګي

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

چا مې په خوا کښې ډک جامونه يوړه
زما د سترګو نه ئې خوبونه يوړه

ډېر ئې دنيا کښې ارماني پاتې کړل
چا چې د ځان سره موجونه يوړه

د غم درياب کښې په اميد د غاړې
په دردمند زړه ئې ارمانونه يوړه

زماني ستا د ناکړدو د لاسه
پټ په زړګي کښې ارمانونه يوړه

زۀ مېخانه کښې وچې شونډې ګرځم
وړې دنيا ترې شرابونه يوړه

ستا د راتلو په انتظار کښې سبا
ناديده سترګو ئې پارونه يوړه

KITABOONA LOGSPOT.COM

تورې وریځې دې پرې لرې نۀ کړې
کۀ دې خیالونو اسمانونه یوړۀ

د تورو زلفو په کړلیچ کښې اشنا
سترګو مې اوښکې بارانونه یوړۀ

خزانه! ستا د ارو پېر بادونو
دِ خوشحالۍ شینکو بادونه یوړۀ

هیڅ خبر نۀ شوې د انور زړګیه!
په چپه خُلۀ چا تهمتونه یوړۀ

(۱۹۵۷)

KITABOONA
LOGSPOT.COM

ملګرو

راځئ چې هر ځائې کښې
ودرېږو يو ځائې کښې
که چرته غم غم وي
يا د خوشيو دم وي
په جمع ئې تول تېر کړو
دا ځان ځانې هير کړو

يواځې هر يو داسې
لکه اس ګډ سوده شي
اخلي قدم بوقه شي
خېژو په بره لوړه
لار مو په ګټو خويه
تګ مو په خوړه خوړه

ستاسو نه څه غوارمه
خو دا ارمان دے زما
لمبه دې بله وي تل
د دې ورورۍ زمونږه

KITAB OONA

زمونږ په سوي ګوګل
تر څو چې مړه نه يو

يواځې زه يواځې
يمه يو داسې لينده
چې تار پرې سور نه وي
داسې يو سوړ انغرے
بل پکښې اور نه وي
لکه په شنډه ونه
د مېوې کور نه وي

تاسو سره به يم زه
څو غږېدلې نه ده
خوږه نغمه د ژوندون
څو را کښې ساه غږېږي
دا ده وعده د پښتون
تاسو م خوږو ملګرږ
تاسو م خوږو ملګرو
لار کښې ما مه پرېږدئ
لار کښې ما مه پرېږدئ

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

سترګې او بانه دې تربګنې کوي
خال دې په جبین حکمراني کوي

سپین رخسار، زلفان نیسي په تور د خط
دا کافران ښه مسلماني کوي

ګران شو دیدنونه په بازار د عشق
اوس به د زړه وینې ارزاني کوي

دا د عشق قیصې رښتیا کوي به څوک
دا به زما توان او ستا ځواني کوي

زړه بې ځایه ورغی په مست لښکر
زر لري نه زور قهرماني کوي

شات، شودې، شراب، مستي، ښائسته حورې
شیخ به هلته څه زندګاني کوي

KITABOONA BLOGSPOT.COM

مونږه د خلیل رسم په خان منو
خلق ګڼه حلال کړي قرباني کوي

فن رسي زړګي ته د ښکلا په لار
دې سفر منزل ته ذوماني کوي

ګرځي پرښور بیا پایهٔ تخت باچا
دلته پښتانهٔ به سلطاني کوي

(مردان اګست ۱۹۹۲)

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

حسن کــه د زړهٔ غــل دے
زړهٔ د دغــې زړهٔ غــل دے

مینـه کــوه ډاډ ګرځـه
څوک چې شرمېدهٔ غل دے

هــر قاتــل تــه نېــغ ګــوره
چـا چـې نــهٔ کاتــهٔ غــل دے

شــپه ستــائي پــه سـپین سبا
شــیخ د نمرخاتـهٔ غــل دے

ستــا د حــسن غلــهٔ ګــوري
نــور باچـا پــه څــهٔ غــل دے

KITABOONA BLOGSPOT.COM

لـــويې ځــو جرګـــې پـــه پېــښور کـــوو
بيــا بـــه ســم ګـــوزار پـــه ســتمګر کـــوو

دلتـــه اباســـين هلتـــه پـــشين نيـــسي
يـــو ښــکر شـئ لــښکر پـه قبـضه ګـر کـوو

ټــک بـــه د ټـوپــک وي پـــه اټــک بانـــدې
دغـــه شــر محـــشر لـــه يـــو اشـــر کـــوو

ځـــئ چـــې ځـــو ګلـــه پـــه مارګلـــه پلـــه
دا پرېکــــړه بـــه مـــونږ پـــه اشـــنغر کـــوو

پـولې بـه معلـومې کـړو مـونږ پـل پـه پـل
پـــام بــــه د پـــالنې د دوتـــر کـــوو

وتـــړي واخـــان چـــې لـــه بـــولان ســـره
لـــک وارې بـــاور پـــه خپـــل رهبـــر کـــوو

KITABOONA BLOGSPOT.COM

نـهٔ دي سرپرسـت چـې قـام پرسـت نـهٔ دي
دا دراز خبــره مختـــصر کـــوو

پــاتې دے ارمــان دا د ســوري افغــان
یـو وار بــه لاهــور زېــر و زبــر کــوو

تېر چې شي دا تـور شبخون په خور پښتون
بیــا باچــا اختــر بــه پــه بــاختر کــوو

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

ګله پدونکې؟

هغوي د خپل ګلشن د بې وسه ګلونو د تازګۍ او ښکلا دپاره
د خپلواکۍ له پاکو، رڼو او مقدسو چينو نه ډک کندولي د ځان سره راوړه
هغوي د خپل قامي ژوندون، غيرت، عزت او ناموس د شملو د عظمت لوړتيا
د ازادۍ او قهرمانۍ د سمندر د چپو نه، جوش، جذبه او مستي د ځان سره راوړه

اوس د سپوږمۍ په نرم او پوست تپ کښې تودې تودې
روغې د اباسين د څنګ نه جوړې ځوانۍ پستې پستې
ښورېږي هم ګنېږي په دې روش د يو بل سرې

ته خو هم سياله بې مثاله ځان ته وائې پښتنې شهرينې
تقدير بدلېږي رابدلېږي د قامونو دا قانون خو وينې
هوا ده ډېره مزېداره خوشګوار شولو موسم د مينې
څه له ته لاس تر زنې ناسته ئې په کور او په وطن غمګينې

ګام په تولن تولن کا، تود دې چلن چلن کا
تاؤ دې بدن بدن کا، نغمه وطن وطن کا

چې مونږ به هم د خپل تالاوالا ګلشن د بې وسه ګلانو د تازګۍ او ښکلا دپاره
د خپلواکۍ د پاکو، رڼو او مقدسه چينو نه ډک کندولي د ځان سره راوړو
چې مونږ به هم د خپل قامي ژوندون، غيرت، عزت او ناموس د شملو عظمت او لوړتيا

KITABOONA BLOGSPOT.COM

د ازادۍ او خپلواکۍ د اباسين د چينو نه جوش، جذبه او مستي د ځان سره راوړو

ربـــه دا تـــوده ګـــډا شـــېرينې تـــه اتـــڼ کـــا
درز د شـــملې خـــور کـــا، د وطـــن ملګـــري وړ کـــا

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

سُرخي غوندې خورېږي په رخسار د قافلې
سپوږمۍ ستوري اوده شو په کړنګار د قافلې

دانې د مرغلرو دي ځلقېږي ځائے په ځائے
راځئ چې ترې نه جوړ کړو ښکلې هار د قافلې

دے وخت د سبا ستوریه! راخېژه کۀ راخېژې
تر څو به په نصیب وي انتظار د قافلې

منزل به درله ګام کړم اوس ناترسه ولولو
اشنا راسره نیسي نن مُهار د قافلې

تۀ وکېږم زۀ په غېږه د ازغو ښکي لکه ګل
ګل چینه! هپه مکوه په ګلزار د قافلې

دا ښکاري څاڅکي څاڅکي چې نن ستا په اننګو
هم دې خولو خو راوسته خُمار د قافلې

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

ژړا چې په خندا شوه د منزل په لویه لار
شرمېږي کهکشان چې ويني لار د قافلې

ستم کوه ناترسه! ترس مه کړه په انور
زما وار به هم وګورې په وار د قافلې

يو شعر

زیړ مخي پسرلي دي د خزان د باد چپو کښې
په للمو زرغونېږي تل شړشم د تماشو

This PDF is downloaded from
Kitaboona.Blogspot.com

KITABOONA
LOGSPOT.COM

Sher Ali Bacha (1933-1998)

Milli Pasoon

"Milli Pasoon" is the collection of Pushto language poems of Sher Ali Bacha. In the beginning his pen-name was Anwar which he later on dropped for Bacha. He was an intellectual, progressive writer and a Pukhtun nationalist politician. Because of his progressive views and support for the poor masses, he was put behind bars for nearly 10 years by the dictatorial forces in Pakistan.

Sher Ali Bacha wrote meaningful poetry. This reflects his anti-imperialist sentiments, passion about social justice and unity of Pukhtun Nation. He wrote excellent prose as well. He wished his unpublished writings reach the readers. This has now been made possible to some extent. After his death "Bal Mashaloona" and "Milli Atal" were released. And now "Milli Pasoon" will further fulfil his wishes.

Pasoon Publishers Mardan